عمل له افراط او تفريط پرته بشپړوالي ته ورنږدې کړئ او يا يې بشپړ ادا کړئ، او پوه شئ چې هېڅوک به ستاسو څخه په عمل ونه ژغورل شي». هغوی وويل: ته هم اې د الله رسوله؟ هغه وفرمايل: «زه هم نه، مګر دا چې الله مې په خپل رحمت او مهربانۍ کې پټ کړي

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «عمل له افراط او تفريط پرته بشپړوالي ته ورنږدې کړئ او يا يې بشپړ ادا کړئ، او پوه شئ چې هېڅوک به ستاسو څخه په عمل ونه ژغورل شي». هغوی وويل: ته هم اې د الله رسوله؟ هغه وفرمايل: «زه هم نه، مګر دا چې الله مې په خپل رحمت او مهربانۍ کې پټ کړي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه کرام عمل کولو ته هڅوي او دا چې له الله څخه تر خپلې وسې پورې ووېرېږي، پرته له دې چې (په عمل کې) افراط او تفريط وکړي، او د دې لپاره چې عمل يې قبول شي او له امله يې پرې د الله جل جلاله له خوا رحمت نازل شي نو په خپل سم عمل سره دې نيت الله جل جلاله ته خالص کړي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم د پيروۍ سره سم دې تر سره کړي. بيا يې خبر ورکړ چې ستاسو څخه به هېڅوک يوازې په خپل عمل سره ونه ژغورل شي؛ بلکې د الله جل جلاله رحمت اړين دی. هغوی وويل: ته هم اې د الله رسوله، آيا ستا عمل د دې ستر ارزښت سره سره هم تا نه شي ژغورلی؟ ويې ويل: زه هم، پرته له دې چې الله مې په خپل رحمت وپوښي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3469